## له امريکا نه د سولې او آرامۍ تمه له شيطانه د هدايت د تمې په څېر ده!

پر داسې مهال چې د بين‌الافغاني سولې خبرې اترې د قطر په دوحه کې روانې دي، په افغانستان کې جګړه زياته شوې او په وروستيو کې په شرقي ولايتونو ننګرهار او لغمان کې د دوو خونړيو چاودنو له امله لږ تر لږه ۲۳ کسان ووژل شول او تر ۹۰ زيات ټپيان شول. دواړه اړخونه يو پر بل د لوړتيا لپاره جګړه او خبرې اترې هممهاله پر مخ وړي. دا په داسې حال کې ده چې د امريکا د بهرنيو چارو وزير ويلي، چې دوی د افغانستان د جګړې بار له خپلو اوږو ټيټ کړی دی. د افغانستان د سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد هم په خپلو څرګندونو کې زياته کړې چې تر دې وروسته افغانان امريکا نه شي پړه کولی. هغه حتی ويلي چې د بين‌الافغاني خبرو اترو د بريا لپاره هېڅ تضمين نشته او که دغه خبرې اترې مطلوبې پايلې ته ونه رسېږي، په افغانستان کې د ۹۰مې ميلادي لسيزې په څېر د کورنۍ جګړې احتمال ممکن دی.

**د حزب‌التحرير ـ ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر د قضيې د مختلفو اړخونو د روښانه کېدلو لپاره لاندې ټکي مهم ګڼي:**

**اول:** امريکا په افغانستان کې خونړۍ جګړه پيل کړه، د خپلو ګټو لپاره يې دوې لسيزې دوام ورکړ او اوس يې ظاهراً داسې پای ته رسوي، چې يوازې خپلې ګټې يې تضمين شي. حتی که افغانستان د جګړې په اور کې هم وسوځي؛ خو چې د امريکا ملي ګټو، نظامي تاسيساتو، ملکي ادارو او د امريکايي اتباعو ژوند ته زيان ونه رسېږي، امريکايان اصلاً ځان مسوول نه ګڼي.

**دويم:** د امريکا دريځ د سولې په قضيه کې هم منافقانه او دوه‌ګونی دی. بين‌الافغاني خبرې اترې داسې مديريت کوي، چې د دواړو مرکچي اړخونو تر منځ د جدي اختلافونو او کشمکشونو لامل شي او په پای کې د منځګړي په رول کې قضيې ته ننوځي، څو اختلافونه حل کړي. امريکا په خپل دغه کار سره غواړي نړيوالو ته داسې پيغام ولېږدوي، چې په افغانستان کې د ستونزو اساسي لامل امريکا نه، بلکې خپله افغانان دي، چې په مهمو مسايلو کې هوکړې ته نه رسېږي. که د امريکا لاسوهنه نه وي، دوی خپلې چارې هم نه شي تنظيمولی. په داسې حال کې چې امريکا په افغانستان کې د وروستۍ ۴۰ کلنې جګړې يو اصلي اړخ دی، چې په خپلو څو ګونو سياستونو يې دغه خاوره بحران او تفرقې ته ټېل وهلې ده.

د افغانستان مسلمان او مجاهد خلک بايد د سولې او جګړې د ختمېدو په شعارونو ونه غولېږي او تل بايد په ياد ولري چې له امريکا څخه د سولې او آرامۍ تمه داسې ده لکه له شيطانه د هدايت تمه. مانا دا چې د امريکا سوله د جګړې بله پاڼه ده. په واقعيت کې د افغانستان جګړه يوازې په خبرو اترو او د هوکړو په لاسليکولو نه حل کېږي، ځکه د افغانستان ستونزه يوه کورنۍ ستونزه نه، بلکې يوه سيمه‌ييزه او نړيواله ستونزه ده او په سيمه کې د امريکا د حضور تر مهاله به دا جګړه دوام لري. دا د افغانستان د مسلمانو خلکو او اسلامي ډلو مسووليت دی، چې په سيمه کې د امريکا او غرب سياسي، نظامي، استخباراتي او اقتصادي نفوذ له منځه يوسي او د –راشده خلافت دولت– تر واحد چتر لاندې په راټولېدو سره خپل برخليک په لاس کې واخلي او خپل فکري او سياسي وحدت تضمين کړي.

### د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر